AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سردار محمد همدرد

۲۰۱۸/۰۸/۰۸

# د اوبو کموالی، راتلونکی ګواښ

اوبه چې د الله تعالی یو له لویو نعمتونو څخه شمېرل کېږي، د ځمکې پر مخ د انسانانو د ژوند کولو لپاره تر ټولو مهمه اړتیا ده. اوس مهال چې په یو شمېر هېوادونو کې انسانان د اوبو له کمښت سره مخ کېږي، نړیوالو بنسټونو یې سبب د هوا ګرموالی او اقلیمي بدلون ښودلی دی.
د مارچ۲۵ چې د اوبو نړیواله ورځ (اوبه د طبیعت لپاره) نومول سوې ده، د دې ورځو په لمانځغونډو کې هم د اوبو د راتلونکي بحرانونو په اړه بحثونه کېږي. په (۲۰۱۶م) کال د هالنډ په ټونټي پوهنتون کې یوه څېړنه ترسره سوه. په دې څېړنه کې راغلي وو چې په کلني ډول د لږ تر لږه یوې میاشتې له پاره به ۴ میلیارده انسانان د اوبو له کمښت سره مخ وي. همدا راز اټکل سوی دی چې په افریقا کې به ملیونونه انسانان د دوامداره وچکالی له بحران سره مخ سي.
په افغانستان کې هم د اوبو متخصصینو د راتلونکي لپاره د اوبو د بحران خبره کړې ده. افغانستان چې یو زراعتي هېواد دی، ډېری وګړي یې په کرونده بوخت دي. دا بحران به له اقتصادي اړخه هم یوه لویه ستونزه را منځ ته کړي.
په دې وروستیو کې د هېواد په ډېرو ولایتونو کې د اوبو د کمښت ستونزه را منځ ته سوې ده. دا ستونزه هم د کم اورښت له امله ده او هم د ځمکې لاندي اوبه ورځ تر بلې د ټیټېدو په حال کې دي.
دا اوس اوس په هلمند کې د کجکي بند د کاسې اوبه ورځ تر بلې کمیږي. د کجکي د بند د مسوولینو په وینا که د اوبو کمښت دغه ډول جریان ولري، کېدای سي شل ورځې یا میاشت وروسته د کجکي کاسه په بشپړه توګه خالي سي. پر دې سربېره په هلمند کې د ځمکې لاندي اوبه هم تر پخوا ډېرې ښکته سوي دي. کندهار، بادغیس، نیمروز او په خپله مرکز کابل دا اوس مهال د اوبو له لوی ګواښ سره مخ دی.
په نیمروز کې چې زه د دولت د یوه مامور په توګه دنده ترسره کوم. تېر کال د نیمرزو ټول کښتونه د اوبو د کمښت له وجې پاتې سول. نیمروز د مرکز زرنج په شمول کنګ، چخانسور، چهاربرجک او دلارام ولسوالی او په ټوله کې نیمروز د ښناک د اوبو له ستونزې سره مخ دی. مرکز او ټول نیمروز تر ځمکې لاندي خوړې اوبه نه لري. یوازې خاشرود ولسوالي د ځمکې لاندي خوړې اوبه لري چې هغه هم د پخوا په پرتله ډېرې ښکته سوې دي.
زه نه غواړم چې د اوبو په تخنیکي اړخ بحث وکړم؛ ځکه په دې برخه کې ډېره مطالعه نه لرم؛ خو کله نا کله د افغانستان له لوی عالم او د اوبو له متخصص ډاکټر صاحب فاروق اعظم سره په دې اړه بحث کوم. ځیني دوستان دا موضوع ډېره ساده ګڼي؛ مګر ساده نه ده. دا یو لوی ناورین دی.
د ملي وحدت حکومت تل د اوبو د مدیریت خبره کړې ده؛ خو په دې برخه کې تر دې ډېر کار ته اړتیا سته. حکومت ته په کار ده چې د راتلونکي نسل لپاره د اوبو د بحران مخنیوی وکړي. که دا کار ونه سي، زمونږ د هېواد لپاره به په راتلونکي کې لوی ګواښ وي.
د اوبو په برخه کې یوه کارپوه وینسینت کاسي ویلي دي، د دې له پاره چې د اوبو د کمښت مخنیوی وسي حکومتونه باید د اوبو رسوني په برخه کې پر بنسټونو او د اوبو په ذخیره کولو کې لا ډیره پاملرنه وکړي.
زمونږ د هېواد لویه ستونزه د اوبو په مهارولو کې ده. مونږ تر اوسه د دې ورتیا نه ده پیدا کړې چې خپلې اوبه مهار کړو.
په پای کې بیا هم دا خبره کوم چې د راتلونکي لپاره زمونږ په هېواد کې لوی بحران د اوبو کمښت دی. په دې برخه کې باید حکومت جدي پاملرنه وکړي. کنه نو په راتلونکي کې به د اوبو د نشتون او لوی ګواښ شاهدان و اوسو.

په درنښت
۱۳۹۷/زمري/۱۶
کابل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ